إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «كله چې د حاجت رفع كولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ يا شا مه اړوئ، بلكې، ختيځ او يا لوېديځ لوري ته شئ

له ابو ايوب الانصاري رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِذَا أَتَيْتُمُ الغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا القِبْلَةَ، وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا»، «كله چې د حاجت رفع كولو ځای ته لاړئ نو قبلې ته مخ يا شا مه اړوئ، بلكې، ختيځ او يا لوېديځ لوري ته شئ» ابو ايوب وويل: نو مور شام ته لاړو، ومو ليدل چې كنارابونه قبلې لورې ته جوړ شوي وو، نو مور به ترې كږېدلو، او له الله تعالى څخه به مو بخښنه غوښتله.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هر هغه څوک چې د وړوکي يا لوى حاجت رفع كولو اراده ولري قبلې ته له مخ يا شا كولو څخه منع كړى دى، بلكې ختيځ او يا لوېديځ لورې ته ترې بايد كور شي، البته كه چېرته يې قبله د مدينې د خلكو د قبلې په څېر وي. بيا ابو ايوب رضي الله عنه وويل چې كله دوى شام ته لاړل نو ويې ليدل چې د حاجت رفع كولو لپاره كنارابونه د قبلې لورې ته جوړ شوي دي، نو دوى به خپل ځانونه د قبلې څخه كږول او لدې سره به يې د الله تعالى نه بخښنه غوښتله.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3078